AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۲/۱۴

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
# دوهم ټوک
## (ځلورمه برخه)

## حاجي عبدالحمید

په ۱۸۸۲ز کال کې په کابل کې زیږېدلی دئ. یو مشهور سوداګر وو او له هندوستان او بخارا څخه د را وارد کوونکي سوداګر په نوم ئې شهرت درلود. د لومړي ځل لپاره ئې په کابل کې د ثابتو قیمتونو لویه مغازه جوړه کړله. په کابل کې د «حمیدي»، «حمیدزاده» او د «عزیز سوپرمارکیټ» د همدی اصلي مغازې مستقلې څانګې دي.

## صوفي عبدالحمید

د نصرالله زوی، په ۱۸۸۷ز کال کې په کندهار کې زیږېدلی دئ. هرات ته لاړ او هلته ئې دودېزې زده کړې تر لاسه کړې. په رسامی او میناتوری کې ئې زده کړې وکړې. په ۱۹۱۳ز کال کې کابل ته راغی او د وسلو جوړولو په فابریکې کې په کار مقرر سو. په ۱۹۲۹ز کال کې په دولتي مطبعې کې د قراردادونو په مدیریت کې مقرر سو. په ۱۹۵۱ز کال کې د اسنادو د مطبعې رئیس. شاعر.

## عبدالحق

په ۱۸۶۹ز کال کې کابل ته نېږدې په بَر ارغندي کې زیږېدلی دئ، د عبدالعزیز زوی او په قوم سلیمان خیل دئ. دودیزې زده کړې ئې کړي دي. له علماوو او استادانو څخه ئې درس ویلی دئ. په ۱۸۹۹ز کال کې د هرات په کشک کې ولایتي قاضي. له ۱۸۹۹ تر ۱۹۰۴ز کال پورې د هرات قاضي. له ۱۹۰۵ تر ۱۹۰۷ز کال پورې په پوځي اکاډیمی کې ښوونکی . له ۱۹۰۷ تر ۱۹۱۸ز کال پورې د مشروطه غوښتونکي[1] په تور زنداني سو. کله چې په زندان کې وو خپل لومړنی کتاب ئې د «عقیدې» په عنوان ولیکهٔ او له عربي ژبې څخه ئې د شام، مصر او ایران د سوبې/ فتحې کتاب وژباړهٔ. په ۱۹۱۹ز کال کې اعلیحضرت امان الله خان له زندانه خوشې کړ او یو ځل بیا په پوځي اکاډیمی کې د ښوونکي په توګه مقرر سو. د اسلام په هکله ئې یو شمېر کتابونه او یو شمېر تدریسي کتابونه او نور کتابونه چاپ کړل او یو کتاب ئې د اعلیحضرت امان الله په هکله د ظهور الامان په نوم خپور کړ او په همدې پار ئې د سرو زرو مډال تر لاسه کړ. همدا شان ئې د حبیبې په لیسې او تر ۱۹۳۸ز کال پورې چې دده د مړینې کال دی په دارالمعلمین کې ئې د استاد په توګه کار وکړ. زوی ئې نور الحق نومېږي.

[1] - constitutionalist


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

## سید عبدالاله (عبد الا الله) ـ

په ۱۹۴۵ز کال کې زېږېدلی دئ ؛ د سید عبدالله زوی ( چې له ۱۹۵۵ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د کورنیو چارو وزیر وو). مور ئې د «شریفي» له قبیلې؟ وه. دی د پلار له مړیني وروسته د پخواني ولسمشر محمد داؤود د کورنی په لاس روزل سوی دئ. په ۱۹۷۰ (؟) ز کال کې ئې د کابل پوهنتون د اقتصاد له پوهنځي څخه لیسانس تر لاسه کړ. یو کال ئې په پوځي خدمت کې تېر کړ او بیا ئې د کورنیو چارو په وزارت کې کار وکړ. تر ۱۹۷۳ز کال پورې د پښتني تجارتي بانک د باندنیو اسعارو د تبادلي مدیر. په ۱۹۷۷ز کال کې مرستیال رئیس. ویل سوي چې د ولسمشر داؤود مرستیالی ته د چمتووالي په حال کې وو. وادهٔ ئې کړی دئ. مېرمن ئې لطیفه نومېږي چې د ډاکتر عزیز سراج لور ده (یو مهال د افغان کورنی د لاربښووني د ټولني / یا د انجمن رهنمای خانوادهٔ افغان مرستیال سکرتر جنرال وو). د ۱۹۷۸ز کال د اپریل په ۲۷ نېټې د غوایي د میاشتي په پاڅون کې ووژل سو.

## عبدالکبیر، بریدمن

(د غوایي له پاڅون وروسته) ددفاع د وزارت د نشراتو د ریاست د سیاسي چارو د مشر مرستیال.

**عبدالقیوم** : وګورئ : ډاکتر عبدالقیوم

## عبدالخالق

د شیر محمد زوی او مهمند دئ، په ۱۹۰۳ز کال کې په غزني کې زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړې لري. له ۱۹۲۰ تر ۱۹۲۹ز کال پورې د اعلیحضرت امان الله خان د داخلي یا کورني امنیت (ضبط و ربط)[2] افسر. له ۱۹۳۱ تر ۱۹۳۹ز کال پورې د مخابراتو مدیر. له ۱۹۳۹ تر ۱۹۵۳ز کال پورې د محابسو عمومي مدیر او مشر. د زندان سیستم ئې عصري او اصلاح کړ او په زندانونو کې ئې د صناعتي تولید ځانګه جوړه کړله. ددهٔ پر وخت د کابل زندان په یوهٔ عمده تولیدي بنسټ بدل سوی وو. له مېرمن خانزاده سره ئې وادهٔ کړی او شپږ زامن لري : عنایت، هدایت، خلیل، پښتون، ذبیح او وحید. او شپږ لوڼې لري: کامله، عالیه، جمیله، نوریه، عاقله او شهناز.*

## عبدالخالق

د غلام نبي چرخي(چې اعلیحضرت نادر اعدام کړ) د خدمتګار زوی. د غلام نبي چرخي له اعدام یو کال وروسته عبدالخالق د ۱۹۳۳ز کال د نوامبر د میاشتي په ۸ نېټې د غلام نبي چرخي غچ د نادر شاه په وژلو سره واخیست. عبدالخالق د نجات (اماني) د لیسي زده کوونکی وو چې هلته تدریس په جرمني ژبې کېدهٔ او قتل د فراغت د مراسمو په ترځ کې پېښ سو. له عبدالخالق سره یو ځای ګڼ شمېر، خو بې ګناه کسان، د لاس لرلو په تور اعدام سول : داد خدا (د عبدالخاق پلار)، قربان علي (د عبدالخالق اکا)، مولا داد ( د عبدالخالق د اکا زوی)، غلام رباني او غلام مصطفی (د غلام جیلاني چرخي زامن)، عبداللطیف (د غلام جیلاني وراره/ خور یې؟)، محمود (د عبدالخالق ملګری)، علي اکبر (د محمود اکا) او محمد ایوب د نجات د لیسي مدیر.

**عبدالله امین** : وګورئ : عبدالله امین

[2] -Zabt wa Rabat


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

## کرنیل لالا عبدالله

په ۱۸۷۵ز کال کې زېږېدلی دئ، د وردکو د مايار د قبيلې يو قومي مشر وو. د کرنيل لالا په مستعار نوم د امير حبيب الله تر لاس لاندې د وسله وال ځواک افسر. ﴿کرنيل لالا : مشر ورور، ډگروال﴾ فرقه مشر، يا جنرال وو. د اعليحضرت امان الله او اعليحضرت نادر خان د سلطنتونو پرمهال ئې مخور مقام او درېځ درلود. په ۱۹۴۸ز کال کې وفات سو. د اسمٰعيل مايار پلار.

## سيد وحيد عبدالله

د سيد عبدالله زوی، په ۱۹۲۷ز کال کې زېږېدلی دئ. ﴿سيد عبدالله : يو ډيپلومات وو چي په ۱۹۳۲ز کال کې له روسانو سره د سرحدي تحديد په خبرو اترو کې د پلاوي غړی وو، د آمو په سيند کې ډوب سو﴾. مور ئې حميده نومېږي چي د محمدزي له کورني څخه ده. د استقلال ليسې ته تللی دئ. په ۱۹۵۲ز کال کې د باندنيو چارو په وزارت کې مقرر سو. له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۸ز کال پورې په لندن کې په افغان سفارت کې د محصلينو اتشه وو. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۱ز کال پورې د باندنيو چارو په وزارت کې د اروپايي او امريکايي چارو په څانگې کې وگومارل سو. د تهران او انقرې په سفارتونو کې ئې خدمت کړی دئ. په ۱۹۶۴ز کال کې د داؤود پلوي فرکسيون غړی. په ۱۹۷۰ز کال کې د باندنيو چارو په وزارت کې د اطلاعاتو د څانگې مدير او د پروتوکول د مشر مرستيال. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۳ز کال پورې په لندن کې په افغانن سفارت کې قنسل. په ۱۹۷۳ز کال کې د باندنيو چارو مرستيال وزير او په ۱۹۷۷ز کال کې د باندنيو چارو سرپرست وزير. له ليلی رشتيا سره ئې واده کړی دئ او دوه لوڼې لري. طلاق سو او بل واده ئې وکړ. د ۱۹۷۸ز کال د مې د مياشتي په لومړيو کې اعدام سو.

## ډاکټر عبدالمجيد

په ۱۹۱۴ ز کال کې زېږېدلی دئ. د حبيبي له ليسې فارغ سوی دئ. د ﴿کورنل﴾ [3] له پوهنتون څخه ئې ليسانس تر لاسه کړی او دکتورا ئې په بايولوژی کې په ﴿برکلي﴾ [4] د کاليفورنيا له پوهنتون څخه تر لاسه کړې ده.۱۹۴۷ د کابل پوهنتون استاد. له ۱۹۴۶ تر ۱۹۴۸ز کال پورې د کابل پوهنتون رئيس. له ۱۹۴۸ تر ۱۹۵۱ز کال پورې د روغتيا وزير. په ۱۹۵۱ ز کال کې د معارف وزير. له ۱۹۵۶ تر ۱۹۶۳ پورې د جاپان سفير؛ له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۷ز کال پورې د امريکا د متحده ايالاتو ته افغان سفير او له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۹ز کال پورې په برتانيې کې افغان سفير. له هغهٔ وروسته تقاعد سو خو د ولسمشر داؤود له پلوه بيرته کار ته راوستل سو. په ۱۹۷۳ز کال کې د عدليې وزير. په ۱۹۷۷ز کال کې ددولت وزير. د ۱۹۷۸ز کال د اپريل په مياشت کې د پل چرخي په زندان کې زنداني سو خو د ۱۹۷۹ز کال په لومړيو کې له زندانه آزاد سو. واده ئې کړی او څلور لوڼې لري. په ۱۹۸۴ز کال کې له افغانستانه ووت.

## ډاکټر عبدالملک

د هراتي سوداگر محمد ابراهيم زوی چي په ۱۹۱۳ز کال کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۳۳ز کال کې د نادرشاه له وژل کېدلو وروسته په دې تور چي د قاتل عبدالخالق ملگری وو، په حبس ابد محکوم سو. په ۱۹۴۶ز کال کې د شاه محمود

[3] -Cornell University
[4] -Berkeley


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

له پلوه عفو سو. د عبدالمجید زابلي له پلوه جرمني ته د لوړو زده کړو لپاره ولېږل سو. خپله ماستري ئې په اقتصاد کې (ډیپلوم وکس ریت)[5] د «کولن» [6] له پوهنتون څخه او دکتورا ئې د میونیخ له پوهنتون څخه اخیستي ده. د نساجي انجنیر. کله چې بېرته هېواد ته راستون سو د باندنیو چارو په وزارت کې، د افغانستان بانک، ملي بانک، د جنګلک په فابریکې، د نساجي په کمپنی، د سوداګرۍ په خونې کې کار وکړ، همدا شان د کانونو او د صنایعو د وزارت مشر سلاکار او له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۶ز کال پورې په میونیخ کې د افغان سوداګرۍ پلاوی. په ۱۹۵۹ز کال کې ئې «شرکت سهامي» [7] جوړ کړ. وروستنې دنده ئې د سوداګرۍ د خونې عمومي رئیس وو. د یونسي د کورنی له یوې مېرمنې سره ئې وادۀ وکړ. په ۱۹۷۷ز کال کې په جرمني کې وفات سو.

## عبدالملک عبدالرحیمزی

په ۱۹۱۴ز کال کې په لوګر کې زېږېدلی دی؛ د عبدالرحیم زوی؛ (د لوګر د کوزې درې عبدالرحیمزي ادرام زي تلفظ کېږي). په تورکیې کې ئې د وسله وال ځواک لپاره د لوژیستیک د افسر په توګه زده کړې کړي دي. په ۱۹۵۳ز کال کې د مالیې وزیر. په ۱۹۵۶ز کال کې د امریکا متحده ایالاتو ته د لیدنې لپاره وبلل سو. په ۱۹۵۷ز کال کې (له باندنیو ځواکونو سره په همکارۍ د یوې کودتا په تور) زنداني سو. له زندان څخه له راوتلو ئې انکار وکړ ان کله چې په ۱۹۶۳ز کال کې کله چې داؤود له دندې لیرې سو دی بیا هم له زندانه نۀ راووت او ټینګار ئې کاوۀ چې داؤود باید محکمه سي. په ۱۹۷۸ز کال کې کله چې مارکسیستانو واک ونیو دی له زندانه راووت خو د مارکسیست رژیم یو منتقد پاتې سو. په ۱۹۸۲ز کال کې وفات سو. ورور ئې ډاکټر عبدالاحمد په ویانا کې تحصیلات کړي دي او له ۱۹۵۰ز کال را په دېخوا هماغلته ژوند کوي.

## نور بیا

## تورن جنرال عبدالقادر

په ۱۹۴۴ز کال کې په هرات کې...

[قدرمنو لوستونکو! د بناعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک]

[5] -Diploma Vokswirt
[6] -Cologne University
[7] -Shirkat –i-ashami


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ